لیکوال: هانس کریستیان اندرسن ۲۰۱۵/۱۰/۱۷

ژباړن: آصف بهاند

# د سمندر وړه ښاپیرۍ

## (Den lille havfrue)

### شپږمه او وروستۍ برخه

وړوکې ښاپیرۍ د دې خبرو په اوریدو سره خپل سر وښوراوه او وې خندل. هغې شهزاده له نورو نه ښه پیژانده. شهزاده هغې ته ویلي وو:«زه باید ولاړ شم، زه باید یوه ښکلې شهزادګۍ و وینم. دا مې د پلار او مور غوښتنه ده، خو په دې ټینګار نه کوي چې زه دې هغه د خپلې میرمنې په نامه دلته راولم. دا نه شم کولای چې هغه را ته ګرانه وي! هغه د تا په شان د معبد لور نه ده. که مې کومه ورځ  وغوښتل چې د ژوند ملګري ځان ته وټاکم، هغه به ته یې، زما له غږیدونکو سترګو سره  ګُنګ لار کې موندلیه ماشومه!»
بیا یې د وړې ښاپیرۍ سره خوله ښکل کړه او خپل لاس یې د هغې په اوږدو ویښتانو کې خښ کړ او خپل سر یې د هغې زړه ته نږدې، پر ټټر ورته کیښود، داسې چې جلککۍ یې د انساني نیکمرغۍ او تل پاتې روح ته د رسیدو خیالونو ته ورسوله.
کله چې د ګاونډ بادشاه هیواد ته د سفر پر لاره کې دواړه د شاندارې کښتۍ په غولي کې کیناستل، شهزاده جلککۍ ته و ویل:«زما بې ژبې ماشومه، ته له سمندره نه ډاریږې!»
شهزاده له ښاپیرۍ سره د توفان په باب، د سمندر په باب، تر اوبو لاندې د عجیبو کبانو په باب او د هغو شیانو په باب چې لامبوزنو تر اوبو لاندې لیدلي وو، وغږید. وړې ښاپیرۍ د شهزاده خبرو ته غوږ ونیو او وې خندل، ځکه هغې تر اوبو لاندې نړۍ  تر نورو ټولو ښه پیژانده.
په هغې سپوږمیزې شپې کې، پرته له یو مانو نه چې د کشتۍ د خوځولو له ماشین سره ولاړ و، نور ټول ویده وو، وړه ښاپیرۍ د کشتۍ د کټارې په اړخ کې کیناسته، د رڼو اوبو منځ ته یې په ځُرتي ډول کتل او د پلار د مانۍ د لیدلو خیال یې په زړه کې تیر شو، داسې چې هلته پاس یې نیا د سپینو زرو تاج پر سر ولاړه ده او لاندې باندې اوبو ته ګوري. بیا یې خویندې د اوبو مخ ته راغلې او په خواشینۍ سره یې هغې ته وکتل او خپل سپین لاسونه یې په نا امیدۍ د هغې خوا ته ور وغځول. وړې ښاپیرۍ هم لاس وښوراوه او ورته موسکۍ شوه. هغې غوښتل خپلو خویندو ته و وایي چې هر څه ښه تیریږي، خو په همدې شیبه کې د کشتۍ یوه وړوکې خدمتګار راغی، د ښاپیرۍ خویندې تر اوبو لاندې شوې او وړوکې خدمتګار داسې و انګیرله چې ګنې د اوبو پر مخ سپن والی د اوبو د سر ځک و که ځنګه.
یوه ورځ وروسته د دوی کشتۍ د ګاونډي هیواد ښکلي ښار ته په داسې حال کې و رسیده چې سرتیري د خپلو ځلنده نیزو پر سر باندې بیرغونه په لاس او د تیار سئ په حال ولاړ وو، د کلیسا ګانو زنګونه کړنګیدل او د برجونو پر سر سُرنیونه پو کړای شول. هره ورځ به پر له پسې میلمستیاوې، جشنونه او د ګډا محفلونه جوړیدل، خو شهزادګۍ هلته نه وه، هغې په مقدس معبد کې زدکړه کوله، چیرې چې هغې ته سلطنتي فضایل او ښیګڼې ور ښودل کیدل. او په پای کې راغله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وړه ښاپیرۍ یې د ښکلا لیدلو ته لیواله وه. کله چې یې ولیدله، اړ شوه و وایي چې پخوا یې داسې ښکلې نجلۍ کله نه وه لیدلې. د شهزادګۍ وجود ډېر پوست او ښکلی و او تر اوږدو بڼو لاندې یې، یوه جوړه شنې(آبي) وفا داره سترګې موسکۍ وې.
شهزاده د شهزادګۍ په لیدو سره و ویل:
«دا ته یې! دا ته وې، کله چې زه د سمندر پر غنډه نیم ځانه پروت وم، نو و دې ژغورلم؟!»
ناوې، چې له شرم نه تکه سره ګرځېدلې وه، په غېږ کې یې ونیوله او وړې ښاپیرۍ ته یې و ویل:
«اوه، اوس زه ډېر نیکمرغه یم. هغه څه چې اوس ما ته راپېښ دي، هیڅ کله مې یې فکر هم نه شوای کړای او ورته امید واره نه وم، ته به زما په نیکمرغۍ خوشاله شې، ځکه چې زه پوهېږم چې زه له نورو نه پر تا باندې ګران یم.»
وړې ښاپیرۍ د شهزاده لاس ښکل کړ او داسې یې ګڼله چې د ماتې(شکست) په حال کې ده. هغه پوهیده چې د شهزاده له واده نه یوه ورځ وروسته به یې مرګ را ورسیږي او د سمندر په ځګ به بدله شي.
د کلیسا زنګونه وکړنګېدل، سواره جارچیان په واټونو کې روان او د شهزاده د نامزدۍ خبر یې خلکو ته رساوه. په ټولو تاخچو کې یې، د سپینو زرو په قیمتي لوښو کې خوشبویه ډیوې ولګولې، کشیشان ښکته پورته تلل او په هوا کې یې خوشبویه عطرونه شیندل. ناوې او زوم لاس په لاس روان او لوی کشیش(اسقف) هغوی ته د خیر دعا کوله. وړوکې ښاپیرۍ په وریښمینو جامو او ګاڼو سمبال، د ناوې د کمیس شاتنۍ برخه ور سره نیولې وه، خو نه یې غوږونو د موسیقۍ غږ اوریده او نه یې سترګو مقدس مراسم لیدل. هغې د خپل ژوند د وروستۍ شپې او ټولو هغو شیانو په باب فکر کاوه چې په دې دنیا کې یې له لاسه ورکړي وو.
ناوې او زوم هماغه شپه د شهزاده په کشتۍ کې سپاره شول، ټوپونه وغړمبیدل او بیرغونه جګ کړای شول. د کشتۍ په غولې کې یوه بخملې کیږدۍ چې طلا هم په کې کارول شوې وه، ودرول شوه. په هغې سره او آرامه شپه کې ناوې او زوم باید پر ډېرو پستو بالښتونو ویده شوي وای.
باد په جګو کړای شوو باد بانونو کې سره تاو را تاو شو او کشتۍ د راڼه سمندر پر مخ، ورو روانه شوه.
کله چې د لمر لویدو وخت شو او هوا تیاره شوه، رنګین څراغونه بل کړای شول، ماڼو ګان د کشتۍ په غولې کې په ګډا شول. وړې ښاپیرۍ ته هغه ورځ ور په زړه شوه چې دې د لومړي ځل له پاره سر له اوبو را هسک کړی و او د خوښۍ همداسې یو مجلس یې لیدلی و. هغه په ګډا تاو شوه او په نخرو سره یې د توتکۍ په شان وزرونه داسې خلاص کړل، لکه څوک چې ور پسې وي. ټولو د خوښۍ غږونه وایستل او لاسونه یې ور ته وپړکول. هغه هیڅکله داسې ښکلې نه وه ګډېدلې. حالت یې داسې و، لکه تیرې چړې یې چې په پښو کې ننوزي، خو هغه ځکه نه ورباندې پوهیدله چې په زړه کې پر ځای شوی درد، له ټولو دردونو نه لوی او ژور و. د سمندر وړه ښاپیرۍ پوهیده چې دا به هغه وروستۍ شپه وي، چې دا شهزاده ګوري، پرته له دې چې شهزاده ور باندې یوه شي یا فکر وکړي، د سمندر ښاپیرۍ خپل ښکلی غږ له لاسه ورکړ، خپل کور او کلی یې پرېښود، هره ورځ بې پایه رنځ او خپګان ور په برخه شوی و.
دا وروستۍ شپه وه چې د سمندر ښاپیرۍ او شهزاده یوه هوا تنفس کوله، دا وروستۍ شپه وه چې دې کولای شول ژور سمندر او د آسمان ستورو ته وګوري. بې خیالونو او پرته له کوم فکره یوه اوږده شپه یې په مخ کې وه، ځکه چې دې کوم انساني روح نه درلود او نه وه توانیدلې چې هغه تر لاسه کړي.
د کشتۍ په غولې کې تر نیمو شپو پورې د خوښیو او خوندونو محفل روان و او د وړې ښاپیرۍ زړه، سره له دې چې د مرګ د ویر کوربه و، وګډیده او وې خندل. بیا شهزاده خپله ناوې ښکل کړه او نجلککۍ هم د هغه تور ښکلي ویښتان ونازول او مټې تر مټې ، پرتمینې کیږدۍ ته ننوتل.
په کښتۍ کې کراره کراري شوه. یوازې د کشتۍ ماڼو، د کشتۍ له چلب سره ولاړ و. وړې ښاپیرۍ خپل سپین مړوندونه د کشتۍ پر کټارې ایښي وو او د سپیده داغ په تمه یې د ختیځ پر لوري کتل. هغه پوهیده چې د لمر لومړنۍ وړانګې به یې و وژني. هماغه شیبه کې یې ولیدل چې خویندو یې له سمندر نه سرونه را وایستل، هغوی هم رنګ الوتې او وارخطا وې. باد نور د هغوی ښکلي او اوږدو ویښتان نه شوای لوبولای، ځکه چې د هغوی ویښتان غوڅ کړای شوي وو. خویندو و ویل:
«موږ خپل ویښتان د سمندر سحر ګرې ته ورکړل، څو هغه له تا سره دا مرسته وکړي چې ته نن شپه مړه نه شې! دا هغه چاړه ده چې زړې سحر ګرې موږ ته راکړې. وګوره چې څومره تیره ده، مخکې له دې چې لمر را وخیژي، ته باید دا چاړه د شهزاده په زړه کې ور ننباسې، کله چې د هغه توده وینه ستا په پښو باندې در تویې شي، پښې به دې بیرته د ماهي په لکۍ بدلې شي او بیرته به د سمندر ښاپیرۍ در نه جوړه شي. مخکې له دې چې مړه شې او د سمندر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د مالګینو اوبو په څک بدله شي، وبه کړای شي چې د اوبو په تل کې له موږ سره درې سوه کاله خپل ژوند وغځوي. بیړه وکړه! مخکې له دې چې لمر را وخیژي، یا ته یا شهزاده یو باید ومري، بیړه وکړه. زړه نیا مو ډیره غمجنه ده، هماغسې چې د سمندر د سحر ګرې بیاتې زموږ وینتان غوڅ کړل، دې هم خپل سپین وینتان بایلودل. شهزاده و وژنه او زموږ خوا ته بیرته را وګرځه، بیړه وکړه! ګوره! آیا ته په آسمان کې هغه سره پټاره نه ګورې؟ څو شیبې وروسته لمر را خیژي او ته به ومرې!»
خویندو یې یو عجیب آه ویست او د څپو په منځ کې ښکته لاړې.
وړې ښاپیرۍ د خیمې ارغواني پرده یوې خوا ته کړه او وې لیدل چې ښکلې ناوې خپل سر د شهزاده پر سینه باندې ایښی دی او غلې ویده ده. وړه ښاپیرۍ ور ټیټه شوه او د شهزاده تندی یې ښکل کړ، بیا را وګرځیده او د آسمان لورې ته یې وکتل، هغې خوا ته چې روښنایي پسې ډیریده. وړه ښاپیرۍ د تیرې چړې خوا ته ورغله او بیا یې شهزاده ته وکتل چې په خوب کې وښورید او د ناوې نوم یې په ژبه راوړ، شهزادګۍ په خپلو خوبونو او خیالونو کې ډوبه وه. کله چې وړې ښاپیرۍ د چړې لاستی کینکوده، وریږدیده او چاړه یې د سمندر منځ ته و غورځوله، هلته چې چاړه وغورځول شوه، څپې سرې شوې او داسې وې لکه د وینو څاڅکې. وړې ښاپیرۍ یو ځل بیا په تتو سترګو شهزاده ته وکتل او ځان یې له کښتۍ نه سمندر ته و غورځاوه او داسې یې و انګیرله چې وجود یې په څک بدلیږي.
لمر د ختیځ له لورې سر له سمندر نه را جګ کړ. تودې او پستې وړانګې یې د سړو او مړو ځګونو د پاسه خپرې شوې، خو وړې ښاپیرۍ ته د مړینې احساس نه و پیدا شوی. هغې ځلیدونکی لمر او په سلوګونو نور ښکلي ژوي ولیدل چې  د دې د سر د پاسه الوتل. هغې کولای شول چې د الوتونکو ژوو له منځ نه د کښتۍ سپین باد بانونه او په آسمان کې سره اوره و ویني. د هغوی غږ د یوې میلودې په شان و، داسې مقدس او سپیڅلی چې د هیڅ ډول انساني غوږونو هغه نه شو اوریدلای او د هیڅ یوه انسان سترګو د هغه بڼه لیدلای نه شوه. هغوی پرته له وزرونو کولای شول په هوا کې و ښورې. د سمندر ښاپیرۍ ښه وکتل او وې لیدل چې دا هم د مځکې نه د پاس برخې د هغو عالي او مکرمو موجوداتو په څیر داسې توان لرې چې کولای شي ښه پاس ولاړه شي.
وړې ښاپیرۍ له ځان سره و ویل:«زه چیرې یم؟»
د دې غږ هم لکه د لوړې دنیا د نورو موجوداتو په څیر داسې ښکلی، مقدس او پاک و چې د مځکنی موسیقي هیڅ ډول دستګاه هغه نه شوای منعکس کولای.
د پاس دنیا مکرمو موجوداتو ښاپیرۍ ته داسې و ویل:
«د هوا له نجونو سره.»
او بیا یې پسې داسې و ویل:
«د سمندر ښاپیرۍ تل پاتې روح نه لري او هیڅ کله یې لرلای هم نه شي، خو په هغه صورت کې یې لرلای شي چې انساني مینه تر لاسه کړي! د تل پاتې ژوند د تر لاسه کولو بخت په نورو پورې تړلی دی.  د آسمان نجونې هم تلپاتې روح نه لري، خو کولای شي د یوه ښه کار په تر سره کولو سره هغه تر لاسه کړي. موږ تودو سیمو ته الوزو، هغو ځایونو ته چې تباه کوونکې توده هوا خلک وژني. موږ به هلته ساړه بادونه وچلوو، موږ به په هوا کې د ګلانو خوشبویه وږمه خپره کړو، تازه او ژوند ښوونکې هوا به هلته خپره کړو. که درې سوه کاله په مینې ښه کارونه تر سره کړو، بیا نو کولای شو تل پاتې روح تر لاسه کړو او په انساني نیکمرغیو کې د برخو خاوند شو. تا خوارکوټې ښاپیرۍ، زموږ په شان، د زړه له کومې دغه هڅه کړې ده، تا ډیر رنځ ګاللی او زغم دې کړی دی، تر څو د آسمان د ارواحو منځ ته رسیدلې یې او اوس کولای شې چې د درې سوو کالونو په اوږدو کې، د ښو کارونو په کولو سره تلپاتې روح و مومې.»
وړې ښاپیرۍ خپل ړانه مړوندونه د خدای په لورې ور جګ کړل او د لومړي ځل له پاره یې احساس کړه چې له سترګو نه یې اوښکې تویږي. بیا له کښتۍ نه غږ را ته. هغې لیدل چې شهزاده او ناوې یې، په دې پسې ګرځي او په خواشینۍ سره د اوبو را وتونکو ځګونو ته ګوري، داسې چې هغوی انګیرله چې وړې ښاپیرۍ ځان د سیند په څپو کې ډوب کړی دی. وړه ښاپیرۍ پرته له دې چې ولیدل شي، د ناوې تندی ښکل کړ او شهزاده ته یې وخندل او د هوا له نورو نجونو سره، د ښکلو تیریدونکو وریځو منځ ته ور ننوته.
وړې ښاپیرۍ و ویل:
«د درې سوو کلونو په اوږدو کې به د خدای وطن ته ور ننوزو.»
د پاس دنیا له مکرمو موجوداتو نه یوه داسې و ویل:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

«کیدای شي ژر به هلته اوسو. موږ پرته له دې چې ولیدل شوو، په هغو کورونو کې خوځیدونکي یو چې هلته ماشومان ژوند کوي او هره ورځ چې موږ داسې یو ښه ماشوم پیدا کوو چې خپلې میندې او پلرونه خوشالوي او د هغوی د مینې وړ وي، خدای یو کال زموږ د آزموینې له مودې نه را کموي. ماشوم نه پوهیږي چې موږ کله کوټې ته ور ننوزو او کله چې موږ په خوښۍ سره هغوی ته خاندو، له هغو درې سوو کلونو نه یو کال را کمیږي، خو که په کوم کور کې کوم بد او جنجالي ماشوم وي، باید له غم نه اوښکې تویې کړو او هر ځاڅکی اوښکه زموږ د آزموینې موده یوه ورځ اوږدوي.»

پای

منبع:

H.C.Andersen Eventyr,1,fra s.145-192,Odnsa,Denmark,1994.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ